آصف بهاند

۲۰۱۷/۰۸/۳۰

# زيرى

هر سبا چي والوزي وړمه

خوره وره شي په بڼونو کي

لاړه شي کورونو

ځنګلونو او ګلونو ته

پراخي لويي دښتي او بيا غرونو ته

هر څه په نرمی را ويښوي

او ورته وايي نوي زيري

په غوږونو کي

خو،

يو زما غريب زيرى

بيا زيرو کي زوړ و

پرونى و

هماغه و

لکه تل چي و:

ستا د لړي والي

د نشت والي

او بيلتون زيرى



۱۳۶۰/۰۷/۲۳
کابل
افغانستان



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ